# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۱٤ ګڼه / سه‌شنبه ۱٦ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۷ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش / ۲٦ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


رمضان کریم ۱٤٤٥ق

**اوقات افطار و سحر به افق کابل**

افطار: ٦:۱۱
سحر: ٤:۲۱

## تر دوه نیم زرو زیات پنجشېري ځوانان به د اردو او پولیسو لیکو ته جذب شي

د پنجشېر والي حافظ محمد آغا حکیم په یوه ښاري ناسته کې ویلي، چې تمه ده په روان لمریز کال کې تر ۲٦۰۰ زیات پنجشېري ځوانان د اسلامي ملي اردو او پولیسو لیکو ته جذب شي.
ښاغلی حکیم زیاتوي چې د اسلامي امارت د مشرانو په لارښوونه به د ۱٤۰۳ لمریز کال لپاره دوه زره تنه د پولیسو، ٦۰۰ تنه به د اسلامي ملي اردو نظامي لیکو او ۸۰ نور پنجشېري ځوانان به ملکي بستونو ته جذب شي.
په دغه ناسته کې چې د بازارک ښاروالۍ له لوري ... ۳مخ

مولوي عبدالسلام حنفي:

## پانګوالو او اصنافو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته کوو



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د صرافانو ټولنې له رییس او غړو سره وکتل.
په دغه کتنه کې د یادې ټولنې مسوولینو د صرافانو او پانګه والو د ځاني او مالي امنیت په تأمین خوښوي وښووده او د هېواد د اقتصادي وضعیت په اړه یې د ریاست الوزراء اداري مرستیال ته مالومات ورکړل. هغوی زیاته کړه، چې د هېواد صرافانو د یو صنف په توګه د سوداګرۍ، پانګونې او پیسو لېږد په برخو کې اغېزناک رول لوبولی او هېوادوالو ته یې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د صرافانو ټولنې غړو د اسلامي امارت ... ۳مخ

ډاکټر قلندر عباد:

## افغان ولس ته په معیار برابر روغتیایي چوپړونه وړاندې کوو



د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د یونیسف ادارې له نوي استازي تاج الدین اویلا سره تعرفي غونډه وکړه. په دې غونډه کې د افغانستان لپاره د روغتیا په برخه کې د یادې ادارې پر دوامداره همکاریو، د روغتیایي برخو پر تخنیکي ملاتړ، د دواړو لورو تر منځ پر لازیاتې همغږۍ او ګڼو نورو موضوعاتو بحث او خبرې اترې وشوې. د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد په دغه ناسته کې د هېواد ټولو وګړو ته د معیاري روغتیایي خدمتونو وړاندې کول د خپلو لومړیتوبونو څخه وبلل او ویې ویل، مونږ هڅه کوو؛ تر څو د روغتیا په برخه کې د خپلو کاري شریکانو په همکارۍ د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه او هېوادوالو ته غوره روغتیایي خدمتونه وړاندې کړو.
په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د یونیسف ادارې استازي د روغتیا په برخه کې د دواړو لورو تر منځ غوره همغږۍ ته په اشارې د خپلو همکاریو پر دوام ټینګار وکړ.

د عامې روغتیا وزارت:

## د تېرو کلونو په پرتله د توبرکلوز ناروغي راکمه شوې

**شریعت:** د مارچ ۲٤مه د نري رنځ یا توبرکلوز په وړاندې د مبارزې نړیواله ورځ وه، چې په هېواد کې هم په دې مناسبت د عامه پوهاوي پروګرامونه تر سره کېږي.
د عامې روغتیا وزارت مسوولین وايي، چې په نري رنځ یا توبرکلوز د مخنیوي لپاره نوي روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي او په ۲۰۲۳م کال کې څه باندې ٤۹ زره د نري رنځ ناروغان ثبت شوي دي، چې د ۲۰۱۹ م کال په پرتله ٦ سلنه او د۲۰۲۲ م کال کې ۵ اعشاریه ۵ سلنه کموالی ښیي، چې د نورو کلونو په پرتله د توبرکلوز ناروغۍ کې د پام وړ کموالی راغلی دی.




په دې اړه د عامې روغتیا وزارت ویاند ډاکتر شرافت زمان د شریعت ورځپاڼې خبریال ته په یوې ځانګړې مرکه کې و ویل: توبرکلوز یوه خطرناکه ساري ناروغي ده، چې په نړۍ کې زیات شمېر مړینه لري او په افغانستان کې هم نوموړي ناروغۍ شتون لري چې په ۲۰۲۳ م کال په اوږدو کې په ټول ... ۳مخ

## وروستیو اورښتونو د کمال خان بند نږدې نیم ډک کړی دی

د نیمروز والي له کمال خان بند څخه د لیدنې پر مهال ویلي چې دغه بند د هیواد د بیارغنیزو پروژو یوه له سترو او حیاتي پروژو څخه ګڼل کیږي. د نیمروز ځایي مسوولین وایي چې ... ۳مخ



سرمقاله

## د فلسطین غمیزه او د امت ناځواني!

دا وخت د فلسطین موضوع دګرد مسلمان امت لپاره له دوو جهتونو انتهایي ډېره مهمه ده. لومړی دا چې د یهودو غونډې سر کښه دښمنانو په لاس د اسلام د ړومبۍ قبلې مسجد اقصی د اشغال خبره ده، هغه چې د څښتن تعالی د لمنځونکي امنیت پکې خوندي نه دی او له اویا کالو راهیسې یې پرلپسې سپکاوی کېږي. دویم دا چې د همدې مبارک جومات او بختورې ځمکې خواوشا مسلمانان همېشه د یهودي او صلیبي یرغلګرو له خوا تر بدترین ظلم و زیاتي لاندې او د هیڅ ډول انساني حقونو خیال یې نه ساتل کیږي. په دې کې شک نشسته چې د اقصی چاپېره سیمې له پېړیو راهیسې د مسلمانانو، یهودو او صلیبیانو ترمنځ همداسې د جنګ جګړو د میدان په توګه پاتې شوې او زښته ډېرې ککرۍ پکې خاورې شوې، خو د مکرۍ بیا د یهودو او صلیبیانو د وحدت او مسلمانانو د خپل منځي اختلافاتو او بې باوریو له امله زموږ پر فلسطینیي ورونړو یو داسې ناوړه حالت راغلی چې مثال یې ان د چنګیزي یرغل پر مهال هم نه دی لیدل شوی. خصوصاً له تېرو پنځه نیمو میاشتو راهیسې خو هلته داسې کانې وشوې چې نه د فرعون په زمانه کې وي، نه د نمرود، اصحاب اخدود او تر هغو را وروسته.
لنډه دا چې اوس هلته د صهیونیستانو له خوا پر عام ولس ړندې بمبارۍ کیږي، جوماتونه یې نړول کیږي، ماشومان د مورو پلار په مخکې وژل کیږي او پرده پوښې مېرمنې د خپلو مېړونو پر وړاندې لوڅیږي، تړل کیږي، اجتماعیجنسی تېرې وربانديې کیږي، خاوندانوته یې ویل کیږي چې حتماً په رڼو سترګو ورګوري هم او بیایې اخر پای ورته وژني هم. یقیناً دا وضعیت په هیڅ صورت د زغملو نه دی، خو هی افسوس چې یا خود دوی په چم ګاونډ کې څوک با احساسه ملت وی او یا تر فلسطینه د افغان لښکرو د ورتګ کومه لار. له بده مرغه دا وخت افغانان نه د ورتګ لار لري او نه یې په نړیوال سیاسي ډګر کې څه غږ اورېدل کیږي، خو دلته زموږ ډېر یو عادي وګړی هم د فلسطین له درده ناخبره نه دی بلکې شپه ورځ ورته ځوریږي، دعاګانې ورته کوي او د افسوس آهو نه باسي. نو اې د غزې مجاهد او مېړنی ملته افغان ولس درته سلام کوي، موږ وبښئ!
موږ همدلته خپل هېواد کې محاصره یو خو ستاسې بده ورځ د زړه په سترګو وینو.

## افغانها قربانی دادند، نه پاکستان

۲

## ملنګ جان پښتو شاعرۍ کې د نوي خوځښت او تحرک موجد و

۲

## افغان اعلانات

۳

## وزارت اطلاعات و فرهنگ تلاش دارد تا همه‌ی بناها را مرمت کنند

وزارت اطلاعات وفرهنگ، تلاش هایی را برای مرمت سه بنای تاریخی غزنی، آغازکرده است. بنا های تاریخی، آرامگاه سلطان مسعود سوم وتپه ی سردار در شهر غزنی ونیز آرامگاه سلطان شهاب الدین غوری در ولسوالی ده یک، بناهایی است که قرار است ازسوی وزارت اطلاعات وفرهنگ مرمت شود. ص۳




وزارت امور داخله:

## از آتش‌زدن دکان‌های مردم توسط اشرار در بلخ جلوگیری شد

وزارت امور داخله اعلام کرده که نیروهای قوماندانی امنیه ولایت بلخ از آتش‌زدن دکان‌های دکانداران در این ولایت توسط اشرار، جلوگیری کرده است.
این وزارت بعد از ظهر دیروز در خبرنامه‌ای از این رویداد خبر داده است.
به گفته وزارت امور داخله پنج تن از اشرار مسلح در قریه «امرخ» ولسوالی زارع ولایت بلخ، قصد داشتند دکان‌های مردم ملکی را آتش بزنند.
در خبرنامه آمده که پولیس در نتیجه اطلاعات کشفی از این اقدام آنان آگاه شده و از آن جلوگیری کرده است. ص۳

## حریق ۵،۲ میلیارد افغانی بانکنوت‌های مندرس و فرسوده

بانک مرکزی افغانستان می‌گوید که طی یک سال گذشته حدود ۵،۲ میلیارد افغانی بانکنوت‌های مندرس و فرسوده را حریق کرده است.دفتر مطبوعاتی بانک مرکزی افغانستان با نشر خبرنامه‌ای گفته که در جریان یک سال گذشته حدود ۵.۲ میلیارد افغانی بانکنوت‌های مندرس و فرسوده از مرکز و زون‌های مختلف کشور جمع‌آوری و حریق شده است. به گفته این بانک، در ... ص۳



## د لاسي صنایعو او فرهنګي اړیکو پر پراختیا بحث وشو

د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست د ایران له فرهنګي اتشه سره په لیدنه کې د دواړو هېوادونو پر فرهنګي اړیکو او د لاسي صنایعو پر پراختیا بحث وکړ.
د افغانستان د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست الحاج نورالدین عزیزي په کابل کې میشت د ایران اسلامي جمهوریت فرهنګي اتشه محترم ډاکټر سید روح الله حسیني سره وکتل په دې کتنه کې دواړو لورو د فرهنګي اړیکو، د لاسي صنایعو د پراختیا، د دواړو هېوادونو د پوهنتونونو د علمي لیدنو، د استادانو د تجربو د شریکولو، افغان محصلینو ته د ایران له خوا د تحصیلي بورسونو او د نندارتونونو د جوړولو په باب خبرې وکړې.
ددغې کتنې په پای کې د ایران د اسلامی جمهوریت سوداګریزو، کلتوري او لرغونو ځایونو ته د لنډ مهاله سفرونو په اړه هم موافقه وشوه.

# مسافره هوا

ارسلا مفتون // ابرار بهیر

د حوت وروستۍ شپې وې، هوا د بدلون جامې اغوستې وې، خپل سفر یې پیل کړی و، د غره لــه څوکو، په هواره او د غونډیو له لمنو یې د واورو پاتې غوټې هم له ځان ســره ټولولې او داســې خوا ته یې نیت کړی و، چې هلته یو بل ژوند پیل کړي.

نوې جامې واغوندي، ځان هوســا کړي او د الهي خلقت ټولې ښــکلاوې وخنــدوي، د رب جَلَّ جَلَالُهُ مخلوقاتو تــه مینه ورکــړي، د ورورولۍ، اتحاد او یووالي پر تغر یې سره راټول کړي.

خیر څه به مو سترې کوم! هوا خپل له امیدونو ډک سفر پیل کړ، له ځان سره یې نرم شمال، خوږه موسکا، شنه ګیاه، بېلابېل رنګونه، ښکلي مرغان او ډېر نور خواږه ملګري هم تیار کړل.

قدمونه یې واخیستل، سفر یې له میاشتو څخه هفتو، له هفتو څخه ورځو او له ورځو څخه ساعتونو ته نږدې شو، د پسرلي تر کوره و رسېده، د حمل په دروازه، دې لوی کور ته داخله شوه، د دې کور لوڼو، ژورو، غرونو، باغونو، ســیندونو، ویالو، ونو او بڼونو ورته د انتظار شــیبې شمارلې، تر څو په سفر تللې هوا څخه د یوې مسافرې مور په څېر غېږ تاو کړي.

د ځمکې په غېږ کې، پراته ویده، بوټي او واښــه د ژمي له اوږده ساړه خوبه د ماشــومانو په څېر راپورته شــول، د بارانو په رڼو اوبو یې خپلې خوبولې ســترګې ومینځلې او په خندا یې خپله مســافره هوا تر لمن ونیوله، لاسونه یې ترې تاو کړل او هر یوه غوښــتل چې دا په میاشــتو مسافره تر خپل کاله و رسوي.

مســافرې هوا د غره په ســر، ګورګورو، ممانو، لمنځو، جلغوزیو او نښترو، خو د غرنو په لمنو او دښتو کې یې پر ګل ریحان، ګل لاله، ګل رېدې، ګل ســمبل، ګلاب، رامبیل، چامبیل، ارغوان او پر کلیــو، باغچو، کودرونو او ښارونو کې یې پر چینار، ســنځلې او بېلابېلو ونو زرغونې پاڼې، رنګارنګ رنګونه او خوشبوګانې تقسیم کړې.

د ســیندونو، نهرونو، ویالو او افشــارونو اوبو ته یې شور ورکړ، مستې او په څپو یې کړې، د چینو پر غاړه یې په شــنو چمنونو او شنېلیو کې مستې کې میلمنې کړې. د زاڼو قطارونه یې د شنه اسمان پر لمنه خواره کړل.

همدې تازه له ســفر راستنې شوې له ځان سره د بلبلو، چڼچڼو او رنګارنګ مرغانو مهاجرې کډې تر بڼونو را و رســولې، بورا هم خپلې وزرې تر نازک ګلاب را تاو کړې، شــونډې یې ور ښــکل کړې او په چیغــو، چیغو یې د خوشحالۍ اظهار ورته وکړ.

د ورېځــو خړې لړې هم د غرونو تر څوکو راغلې، د غره پر لمن یې خپل پر اوښکو لوند ځادر هوار کړ، آن د سمندر تر غاړه یې د سپینو پیشوګانو په څېر ځانونه را ورسول- فضاء یې بدله کړه، د سیند څخه پورته کېدونکې د هوس اســوېلي او د ورېځو ګردابونه سره ګډ شــول، تا به ویل له کلونو مسافرې خویندې یو او بل ته غاړه ورکړي.

بلخوا کوچیانو هم د غرونو او پر شنو بیدیاوو د کیږدیو ماندې ټینګې کړې، په شــنېلیو کې رمې خورې شوې، شپنو د پرتو غونډیو پر سر په شپېلیو کې د پســرلي د ښکلاګانو ســتاینه کوي، کوچیانې د غړکو شاربلو ته پر ګونډو ناســتې وې، د قُرتو پوزۍ له شــلومبو ډکې د کیږدیو په ماندو پسې ځوړند وې.

د شــیدو تر کټــو ولاندې د اور لمبــې خورې وې او نــرۍ دود ترې پورته کېــدی. تر څنګ یې په دېره کې له کلونو ورکو ســپین ږیــرو یو او بل ته په خوشحالۍ غاړې ورکړې، باندار یې تازه وو او د کلونو خاطرې یې یو بل ته بیانولې.

بزګرانــو ملاوې تړلې، بیل پر اوږو د خپلــو کروندو پر خوا روان وو، تر څو فصلونه اوبه کړي او ډول ډول نیالګي کېنوي. ماشومان ډلې، ډلې د مکتب په لور قدمونه اخلي، کتابونه یې تر شاه ټینګ تړلي او د سهارګي نرۍ شمال یې په مخ پرتو ویښتانو باندې لوبې کولې؛ معلم ورته په توره تخته د پسرلي موسم ښکلاوې رسم کړې وي؛ پر خوږه او خندانه لهجه ورته د ژوند لارې ښیي.

راځئ! مور هم د دې مســافرې هرکلی وکړو. ونې، بوټي او ګلان وکرو، د خپلو خلکو او خپلو ځانونو لپاره دا وطن اباد کړو. د دوړو، ګردونو او بارودو بوی د ګلونو په معطرو وږمو ورک کړو، هم به مو روغتیا ته ګټه وي او هم به مو زړونه او ذهنونه خوشاله وي.

راځئ خپل ژوند د ســپرلي په څېر په خوښــیو پیل کړو- د خلکو ژوند ته خوښــۍ- رنګونه، امیدونه، اتحاد، ورورولي او مینه ورکړو، خوښۍ یې یو پــر دوه کړو، له نا امیدۍ او مایوســۍ څخه یې و ژغورو او یو داســې څه ورته ډالۍ کړو، چې ژوند یې پرې هوســا، ښــکلی او له خوښیو ډک شي، تر څو هر ځل په پوره لیوالتیا او امید ســتا یــو ځای کېدو او راتلو ته انتظار وکړي.

دا چې هر پســرلی ستا د یو کال عمر او ځوانۍ په بیه تمامېږي، نو دا دومره لوی قیمت درلودونکی څیز په ارزانــه او بې بیه ونه پلورې، پوره خیال یې وســاته تر څو ســتا د ژوند د هرې هیلې غوټۍ په کښې و سپړېږي او ژوند دې پرې معطر شي.

لــوی او مهربان الله تعالی پر خپلو بندګانو څومره نعمتونه او ښــکلاګانې لورولــې دي، خو له بــده مرغه، چې ځینې ســر زوري بیا د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د نعمتونو ناشــکري کوي او په لوی لاس دغه ښایستونه بدرنګوي، پر ځمکه فساد خوروي او د خدای بندګان په ویر او غم اروي.

# افغانها قربانی دادند، نه پاکستان

استوار

امروزه زعمای کشور همسایه ما پاکستان برف بام خود را بالای مردم افغانستان می اندازند که این ادعا بی اساس و بدون مصداق می باشد نا امنی های کشور همسایه پاکستان مربوط و منوط به سیاســیون و مردم پاکستان می شود نه مردم افغانستان! اینکه چرا مسؤلین امور پاکستان بار ملامتی و پلشتی های ناامنی کشور خویش را میخواهند بالای مردم افغانستان بار نمایند.

ادعای بی اساس آنها این است که گویا نیروهای مخالف نظام پاکســتان در سرحدات افغانســتان جایگاه دارند و حمایت می شوند. مقوله ای داریم که گویند خاک خشک به دیوار نمی چســپد این ادعا که هیچ گونه بنیاد و اساس ندارد، بیایند همان مخفی گاه ها را به ما نشان بدهند که در کجاست پس از حاکمیت امارت اسلامی در افغانستان تمام سرحدات کشور تأمین امنیت گردیده هیچ فرد مسلح غیر مسؤل نه افغان و نه اجنبی در سرحدات مسکن و رفت و آمد ندارد. کشور همسایه ما بهتر است با حسن نیت و با در نظر داشت حفظ حقوق همسایه گی روابط داشته باشد. افغان ها نه بارمنت بالای کســی میگذارند و نه هم منت واحساس کسی را بالای خود قبول دارند، اگر مسؤلین امور پاکستان بالای مجاهدین افغانستان دوره جهاد و مهاجرت را میگذارد بهتر است این را هم فراموش نکند که مجاهدین افغان دژ مستحکم بودند که متجاوزین را اجازه ندادند به پاکستان راه پیدا کنند پس باید مردم و کشور پاکستان مدیون جانثاری مجاهدین افغانستان باشند زیرا ملت مجاهد افغان بــا دادن قربانی های جانی و مالی فراوان علاوه از این که کشــور خود را از لوث متجاوزین پاک نمودند و نجات دادند در حقیقت امر مانع رفتن آنها به پاکستان نیز گردیدند.

افغانستان و پاکستان دو کشور مسلمان با داشتن وجوهات مشترک در همسایه گی هم بایسته است با روابط نیک و احسن زندگی نمایند و هیچگونه درز را در میان این دو ملت مســلمان راه ندهند. بایسته است با روابط نیک اقتصادی، اجتماعی و سیاسی بتوانند در شگوفایی و تعالی هم مؤثر و بارع تمام شوند. حمله طیارات پاکستان و بم افگنی در ولایات خوســت و پکتیکا به عنوان حمله بالای عناصر ضد نظام پاکستان عملیست که در حقیقت نقض حقوق همسایه گی و حسن همجواری میان دو کشور همسایه، زعمای پاکستان صبر و شــکیبایی مردم ما را درک کنند، در غیر آن تاریخ گواه اســت که افغانها در مقاطع مختلف تاریــخ به متجاوزین و ابر قدرت ها درس عبرت داده اند. اکنون نیز توان دفاع از حریم و خاک خویش را دارند و با متانت میتوانند در مقابل هر گونه حمله اجنبی ها بایستند. امارت اســلامی افغانستان طرفدار روابط نیک و احسن با تمام کشورهای جهانی است به ویژه همسایه های خویش بناءً از کشــور همسایه خویش پاکستان خواهانیم به بهانه های نادرست و عاری از حقیقت روابط دو کشور همسایه و مسلمان را خراب ننموده، احترام متقابل را حفظ نمایند در غیر آن این پندار به حقیقت می پیوند که گویا پاکستان امنیت و یک نظام قوی را در افغانستان دیده نمی تواند. زیرا که همه جهانیان میدانند با حاکمیت امارت اسلامی امنیت در سراسر افغانســتان تأمین گردیده است. نباید همسایه ما پاکســتان باظن و گمان های بی اساس امنیت را بر هم زند. افغانســتان با هیچ کشــور در تقابل قرار ندارد و می خواهد تعامل نیک با همه به ویژه همسایه های خود داشته باشد.

# ملنګ جان پښتو شاعرۍ کې د نوي خوځښت او تحرک موجد و

حیا ت الله حلیم

ملنګ جان د پښتو ژبې نابغه او هغه خوږ ژبی ولسي شاعر و چې په پښتو ادبیاتو کې یې د آریایانو په ویدي سبک نوې هستي و پنځوله، خو ژوند یاري او وفا ورسره ونکړه او د خپل عمر په منځنۍ مرحله کې پرته له دې چې پیل شوې شاعري یې د بلوغ سرحدته ورسېږي له دنیا سترګې پټې کړې، وفات شو.

د ملنګ جان ولســي شاعري کټ مټ د آریایانو (ویدونه) ته ورته وه ځکه شــاعري یې د لویانو او ماشومانو د خوښۍ داسې عامیانه شــاعري وه چې ټولو خوښوله او وخت نا وخت به یې له ځان سره زمزمه کوله.

که څه هم د پښتو عامیانه شاعرۍ په افغانستان او کوزه پښتونخوا کې د ملنګ جان تر وخته ډېر تیت پــرک پړاوونه وهلي وو، ډېرې تجربې یې کړې وې او ډېر موضوعات یې په خپله سینه کې ځای پرځای کړي و، خو کله چې ملنګ جان پردې ډګر ورګډ شو عامیانه شــاعرۍ ته یې د محتــوای له مخې نوی تحرک ، خوځښــت او نوښــت ور وبانښه او په دې توګه یې د پښتو په عامیانه شاعرۍ کې د ژورسیاسي، شعور او لوړ ملي احساس په درلودلو سره د وخت (حاد) موضوعات طرح کړل او په پاروونکیو او هڅوونکیو آهنګونو کې یې د خپل ولس او ملت هوښــیارۍ او بیدارۍ ته رسول، د ده نغمې او ترانې ولس هم ورســره زمزمه کړې او په لروبر پښتونخوا کې یې تودې ولولې او هنګامې را ولاړې کړې، څرنګه چې د پښتو عامیانه شاعري تل نالوستیو شــاعرانو کړې وې، نو ځکه د دوی د شــاعرۍ درک په برسېرنو احساساتو ، ادراکانو او لیدنو ولاړ وي او موضوع ته ژر نه شــي ورلوېدای، خو ملنګ جان د خپل وخت د (حادو) سیاسي مسایلو ډېره ښه ترجماني وکړه او هغه یې په بشپړ ډول خپل ولس ته ورسول چې په پښتو عامیانه شاعرۍ کې دا د هغه خپل ځونی امتیاز او نوښت و، نو پښتنانه ادب پوهان یې ځکه د پښتو په عامیانه شاعرۍ کې د نوي تحرک او خوځښت را منځ ته کوونکی او موجد (ایجادوونکی) بولي.

اروابنــاد قیام الدین خادم په خپل « نبوغ اوعبقریت » نومي کتاب کې ملنګ جان د خپل وخت یونابغه عامیانه شاعر بللی که څه هم ځینوکسانو د ده په دې نظر نیوکه کوله خو حقیقت دادی چې د خادم صیب دا حکم بې ځایه نه و چې ویل یې خدای پاک نوابغ له یوه، وهبي (د الله له پلوه بخشش) استعداد سره ټولنو ته را لېږي او دوی د عادي انسانانو تر توان لوړ او لوی کارونه ترسره کوي چې ملنګ جان هم یوله همدغه کسانو څخه و، ځکه زده کړه او تعلیم یې نه و کړي، خو درک احساس او شاعرانه استعداد او تخیل یې په خدایي توګه څپاند ، ځلاند او خوځنده و. دی ځوان و ، احساســات یې ځوان او شاعري یې هم ځوانه،نو ځکه ډېره هیله او امید ورته کېده چې د پښتو په عامیانه شاعرۍ کې به نورې زیاتونې او پنځونې هم وکړي او نوره ګټوره پانګه به هم را منځ ته کړي، خو ناڅاپي مړینې نه یوازې دی ځوانیمرګ او نیمه خوا کړ بلکې د ده شاعري یې هم ځوانیمرګه کړه او پښتنې ټولنه یې د یوه داسې څپاند استعداد او نابغه شاعر له نعمت څخه محرومه کړه چې د پېړیو تېرېدل به هم دا تشه ډکه نه کړي.

ملنګ جان د اسلام، سیاست ، ننګ، ټولنیزې ودې ، علمي پراختیا ، ولسي ښېګڼې حتی د تصوف موضوعګانې هم په پوره قدرت او قوت د پښتو په عامیانه شاعرۍ کې ځای کړې وې.

که له موضوع لیرې ولاړ نشــو، نو د ویدي سرودونو انګازې هم د ملنګ جان د عامیانه شــاعرۍ په شان زړګونه کلونه وړاندې داسې وخت د آریانا د غرونو اوګل کڅونو په غېږه کې د نالوستیو آریایانو له خولې او ژبې را وتلې چې په نړۍ کې چا لیک او لوست نه پېژاند او د تاریخ د دورې ســپېدې لا نه وې چاودلې، د همدې سرودونو له مخې محققین د آریانا تاریخ په دریو دورو وېشي چې یوه یې تر تاریخ وړاندې، بلــه یې تاریخي او دریمه یې د لومړۍ او دوهمې دورې تر منــځ نیمه تاریخــي دوره یا د ویدي ســرودونو دوره بلل شوې، څکه د منځني دورې سرودونه په تاریخي دوره کې د آریایانو په ذهن کې ژوندي او په ژبو یې جاري وه،نو ځکه د تاریخي دورې پیل هم داوســتایي دورې له سرودونو (ګاڅونو) څخه کېږي او په دې توګــه له تاریخ د مخه دورې او منځنۍ دورې د علم ، پوهې او بشري تجربو تسلسل همدا سردونه ټینګوي دا سلسله همداسې را روانه وه چې د آریایایي کورنۍ په غېږه کې پښتنو سترګې وغړولې او خوږه ژبه یې پښتو شوه ، سردونه یې پرې وویل اوسندرې یې پرې وغږولې ، پښتو سردونو اوسندرو هم د اسلافو لاره ونیوله او دویدي ګاڅونو له شویو تجربو یې استفاده وکړه او د شفاهي ادب سلسله یې پرې وپالله، حتی کله کله یې د خپلو میندو له ژبو نه تیار الفاظ را واخیستل ، چې په سلګونو نمونې یې اوس هم را پاتې دي.

د میندو او ماشومانو سندرې هغه زړې سندرې دي چې د پښتو ژبې له زېږون سره ســمې را زېږدلې او د میندو ژبو کړۍ او لړۍ یې لا تراوسه له پښتو ادب سره ټینګه اړیکه ســاتلې ده ، په زړه پورې ده چې د پښتو ولسي سندرې هم لکه د میندو د ژبو د سندرو غوندې شفاهي دي چې خوله پرخوله اوسینه پرسینه را نقل شوي او له یوه نسل نه بل ته په را نقلېد واوس هم د ویدونو زړه عنعنه پالي.

په دې وروستیو پېړیو کې د پښتو عامیانه شاعرۍ ښه وده وکړه اوګڼې نمونې یې خوندي پاتې شوې خصوصا دا دوې وروستۍ پېړۍ چې د پښتنو د ننګ او جنګ پېړۍ دي ،نو ځکه ګڼ رزمي شاعران هم په دې پېړیو کې را پیدا شوي فرانسوي مستشرق ډار مستټرچې « د پښتونخوا د شــعرهاروبهار» کتاب کې یې د دې شاعرۍ پریمانه نمونې راغونډې کړې او وایي :

پخوا پښــتنو جریدې او ورځپاڼــې نه درلــودې د دوی ورځپاڼې اوجریدې ولسي سندرې وې چې دا ټولې یې اوس هم په سینو کې خوندي پاتې دي .

او بلاخــره ملنګ جان د ۱۳۳۶ هجري کال د (کابل-ننګرهار) په لارې دیوې ترافیکي پېښې په ترڅ کې له خپل ماشوم زوی سره غاړه غړۍ د۴۳ کالو په عمر وفات شو.

# د مدینې پر لور

دریمه برخه - لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله - ژباړن: محمدصادق طارق

همدارنګ مې د رســول الله صلی الله علیه و سلم د هجرت کیســه په دې کتاب کې ولوستله داسې کیسه چې په یاد به مې نه وي چې تر هغې مې خوندوره او مؤثره کیســه لوســتې وي. لیکوال دا کیسه په صداقت او ســادګۍ انځور کړې او مدینې ته یې د رســول الله صلی الله علیه و ســلم د ننه کېدلو لحظه په خورا زیاتې ښــکلا بیان کړې چې خلکو څنګه د رسول الله صلی الله علیه و ســلم د راتګ شــیبې شمارلې او زړونه یې د هغه په مینــه ټپېدل. کله چې مدینې منورې ته د ننه شــو ټول قومونه له یو بل وروسته د دواړو جهانونو سردار ته راتلل او هغه یې په اخلاص او صداقت خپل کور ته د زیاتو رفاهي امکاناتو څخه د کار اخیســتلو په موخه بولې خو د أبرارو سردار -فداه أبي و أمي- فرمایل: «خلّوا ســبیلها فانّها مأمورة» د اوښې مخ مه نیسئ ځکه د الله تعالی له لوري مأموریت لري.

وروســته په هماغه ځای کې چې نن د رســول الله صلی الله علیه و سلم د جومات دراوزه ده چوکه شول او بیا پورته نه شول. د الله تعالی اراده همداســې وه چې دا له ټولو ستر شرف د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه په برخه شي نو ځکه یې د رسول الله صلی الله علیه و سلم توکې خپل کور ته انتقال کړل.

په یاد کتاب کې مې ولوســتل چې ابــو ایوب رضی الله عنه د رســول الله صلی الله علیه و سلم د کوربه توب د ویاړ ترلاسه کولو له امله څومره خوښ او خوشحال ؤ. هوکې دا ټولې کیسې به مې لوستلې او احســاس مې کاوه چې زړه مې رانه بېل او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له اوښې سره یو ځای مدینې ته دننه شوی دی! لکه چې دا ټول جریان مې په سترګو لیدلی. څومره چې مې د پاچاهانو، مشــرانو او واکمنو خلکو یو ځای ته د دننه کېدلو تاریخ لوســتی ؤ په ســترګو کې مې بې ارزښته شــوی ؤ او هر څومره محبت او اخلاص چې یو څوک یې له چا ســره لري، رانه هېر شــو. دا هرڅه مې په روح او روان کې نقش وموند.

همدا راز مې د احد غزا داســتان ولوســت داسې داستان چې تاریخ به تر هغه ښکلی، زړه راکښونکی او په زړه پورې داستان په حافظه کې ونه لري؛ داســې داســتان چې د وفا، اخلاص، زړورتیــا، ایمان، یقین او غوره اخلاقــو مظهر دی. د حضرت انس بن نضر رضی الله عنه وینا هغه کسانو ته چې قرار ناست و او ویل یې رسول الله صلی الله علیه و سلم شهید شوی دی مــا ته ټکانونه راکړل. هغه به خپلو ملګرو ته وویل: تر رســول الله صلی الله علیه و ســلم وروســته ژوندون به مو په څه ګټه درشي؟ ولاړ شــئ د هماغه موخې لپاره چې رسول الله صلی الله علیه و سلم شهید شو تاسو هم ځانونه قربان کړئ. او دې خبرو یې هم ټکانونه راکړل چــې «د جنت بوی مې د أحد له لوري تر پوزې شو».

همدارنګ مې د هغه چا کیســه هم ولوســته چــې له اوږدې مبارزې او زیاتو ټپونو وروســته یې د ژوندون په وروستیو شیبو کې یوازینۍ هیله د رسول الله صلی الله علیه و سلم دیدار ؤ، نو ځکه یې د ابرارو ســردار ته حاضر کړ او په داسې حال کې یې روح خالق ته وسپارل چې سر یې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زنګون پروت ؤ.

**نور بیا ...**

## وروستیو اوربښتونو د کمال خان بند ...

د دغه ولایت والي شیخ محمد قاسم خالد د کمال خان بند څخه د لیدنې پر مهـــال د دې بند له تخنیکي ټیم او نورو مسوولینو سره کتلي دي. د کمال خان بند انجنیرانو له شیخ محمد قاسم خالد سره په لیدنه کې ویلي، چې یاد بند څه باندې ۵۲ میلیون متر مکعبه د اوبو ذخیره کولو ظرفیت لري او د وروستیو وربښتونو له امله ۲۵ میلیون متر مکعبه اوبه پکې ذخیره شوې دي.
شیخ محمدقاسم زرنج ښـــار او ولسوالیو ته د دغه بند د اوبو خوشـــې کولو پر مهال وېش له تخنیکي ډلګۍ سره غږېدلی دی.

## د نورستان په وانټ وایګل کې ...

کړي. د نورســـتان د مخابراتو اومعلوماتي تکنالوژۍ ریاست مسوولین وایي چې د دغه ولایت هغه سیمو ته به هم مخابراتي خدمات ورسوي چې تراوسه ترې بې‌برخې دي. د یاد ریاست رییس احمد خالد وایي، د ټولو مخابراتي شـــبکو په همغــږۍ به د دې ولایت هغو سیمو ته هم خدمات وغځوي چې تر اوسه ترې بې برخې دي.

## جمعیت هلال‌احمر افغانی نُه پایه ...

به شفاخانه ۴۰۰ بستر سردار محمد داوود خان، تحویل داده شده است.
قرار است کادر درمانی شفاخانه ۴۰۰ بستر سردار محمد داوود خان با استفاده از وسایل و تجهیزات مدرن کمک شده، هرگونه عملیات‌های قلب را در جریان یک ماه اجرا کنند. شفاخانه ۴۰۰ بستر ســـردار محمد داوود خانه از نهادهای مهم درمانی در کشـــور است که عملیات‌های پیچیده و نادر در آن اجرا می‌شود.

## توزیع کمک‌های بشردوستانه ...

انکشـــاف دهات کمک‌های یادشده به نیازمندان در ولایت‌هـــای ننگرهار، پروان، هلمنـــد، زابل، کابل، سمنگان، کندهار، جوزجان، و خوست، توزیع شده است.
در خبرنامه آمده که کمک‌های توزیع شده شامل مواد خوراکی و پول نقد بوده است.
وزارت احیاء و انکشـــاف دهـــات می‌افزاید که مواد خوراکی کمک‌شـــده از ســـوی برنامـــه جهانی غذا (WFP) در اختیـــار خانواده‌هـــای نیازمند قرار داده شده است.
ریاســـت‌های ولایتی احیـــاء و انکشـــاف دهات در ولایت‌هـــای متذکره، نقش همکاری در تشـــخیص خانواده‌ها و توزیع مواد غذایی داشته‌اند.
این در حالی اســـت که روز گذشـــته نیـــز از توزیع کمک‌های بشـــری برای بیش از یازده‌هزار خانواده در چند ولایت کشور، خبر داده شد.

## تر دوه نیم زرو زیات پنجشیري ...

جوړه شوې وه، ددې ولایت مشرانو او ځوانانو له اسلامي امارت څخه خپل ملاتړ ښـــودلی دی. دوی د دولت او ولس مخامخ اړیکې او همکاري اړینه بللې ده.
بل خوا د پنجشیر ځایي مســـوولان په دغه ولایت کې د بشـــپړ امنیت ډاډ ورکوي او په وینا یې چې دلته هېڅ ډول امنیتي ګواښ نشته.

## پانګه والو او اصنافو ته لازمې ...

له لـــوري په مختلفو په ځانګړي ډول ســـوداګرۍ او پانګونـــې برخو کې د لازمو اســـانتیاوو پـــه برابرولو خوښـــي وښـــوده او همداراز صرافانو تـــه د مالیاتو د تادیاتـــو په برخه کې د اســـانتیاوو رامنځته کولو ته یې د ځانګړې پاملرنې غوښـــتنه وکړه. په ورته وخت کې د ریاســـت الوزراء اداري مرســـتیال په دغه کتنه کې وویل چې اســـلامي امارت ټولو سوداګرو، پانګه والو او اصنافو ته د لازمو اســـانتیاوو رامنځته کولو ته ژمن دی او په دې برخه کې به له هېڅ ډول هڅو دریغ ونه کړي.نوموړي زیاته کړه، چې اســـلامي امارت پخپلو ټولو امکاناتو پانګه والو او اصنافو ته په مختلفو برخو کې د اســـانتیاوو رامنځته کولو هڅه کوي او له هغوی یې وغوښـــتل ترڅو د هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره په مختلفو برخو کې پانګونه وکړي.

## د تېرو کلـونـو پـه پـرتلـه ...

هېوادکې ۴۹زره ۵ ســـوه ۳۳ په شـــاوخوا کې د نري رنځ مثبتې پېښـــې ثبت شـــوي دي. ښـــاغلی زمان وایـــي، چـــې د هېـــواد پـــه ۳۴ ولایتونو کـــې ۸۷۳ روغتیایـــي دولتي مرکزونـــه او په لویو ښـــارونو کې ۶۸ خصوصـــي روغتونونـــه فعال دي، چـــې د نري رنـــځ درملنه پکې کېږي، چې پـــه اکثرو ولایتونو کې د توبرکلوز لابراتوارونه او وســـایل شـــتون لري او د نري رنځ ناروغانو ته اســـانتیاوې برابرې شـــوي دي.
نومـــوړی وایي، چې د تېرکال کومې پېښـــې رامنځته شـــوې دي، د عمر او جنســـیت په اساس۴۴ سلنه په ښځو، ۳۴سلنه په نارینه وو چې عمرونه یې د ۱۵ کاله څخه لوړ دي او ۲۲ سلنه ماشومان چې د نري رنځ یا توبرکلوز په ناروغۍ مبتلا شوي دي. هغه همدارنګه زیاتوي، چې د نوموړي ناروغۍ د کنټرول په هکله د بېلابېلو لارو د رســـنیو، مسجدونو ملا امامانو، قومي مشرانو او په روغتیایي مرکزونو کې عامه پوهاوی ورکړل شوی دی، تر څو د توبرکلوز ناروغۍ مخنیوی وشي.
همدارنګه بل لور تـــه ډاکټر حقبین صافی د نري رنځ ناروغۍ په هکله داســـې وایي هغه څوک چې د بدن مدافعت قـــوت یې ضعیف وي، پر نـــورو اوږدمهاله ناروغیو اخته وي، پر دې ناروغۍ د اخته کېدو احتمال یې زیات دی. ښـــاغلی صافي وایي، چې تر اوږدې مودې د راهیســـې ټوخي، په لنډه موده کې د وزن ډېر کمېدل یا د شـــپې مهال پر بدن د خولې راماتېدل هغه علایـــم دي، چې د نري رنځ لومړني احتمالي نښـــې نښانې بلل کېدای شـــي. د صافي په وینا ککړه هوا، په تنګو مېشـــت ځایونو کې د ډېرو کسانو اوسېدل او د انســـان د بدن دفاعي قوت کمزورتیا له هغو لاملونو ګڼـــل کېږي، نری رنـــځ چې یوه ســـاري ناروغي ده، په چټکۍ لـــه یوه انســـان څخه نورو تـــه انتقالېږي. اوس هم په نرۍ کې له هغو ناروغیو څخه یوه یادېږي چې ډېر خلک وژني. د نړیوالو روغتیایي ادارو شمېرې ښیي چې په هرو ۲۲ ثانیو کې د نري رنځ یو ناروغ ژوند بایلي.

**سمیع الله مومند**

## وزارت اطلاعات وفرهنگ تلاش دارند ...

ملا حمیدالله نثار رئیـــس اطلاعات و فرهنگ غزنی به آژانس باختر گفت که کارشناسان مسلکی وزارت اطلاعات وفرهنگ، به غزنی رفته وروند ســـروی این بنـــا های تاریخـــی را آغاز کـــرده اند.اوگفت که قرار است، روند مرمت این بنا های تاریخی، آغازشود.
ملا نثار، با اشـــاره به موجودیت شـــماری از بنا های تاریخی درغزنـــی که نیاز به مرمـــت دارد، گفت که امارت اســـلامی تلاش دارد تا همه ی ایـــن بنا ها را مرمت کند.بنا های تاریخی، آرامگاه سلطان مسعود سوم وتپه ی سردار در شهر غزنی ونیز آرامگاه سلطان شـــهاب الدین غوری در ولســـوال ده یک، دراثر گذر زمان ورویداد های طبیعی، آسیب دیده است.رییس اطلاعات وفرهنگ غزنی می گوید که دربیست سال رژیم گذشـــته، هیچ کار توجهی برای حفظ و مرمت بنا های تاریخی این ولایت باســـتانی، انجام نشـــده است.این درحالی اســـت که ملا خیرالله خیرخواه، سرپرســـت وزارت اطلاعات وفرهنگ، اخیرا هنگام بررسی وضعیت بنا های تاریخی درکندهار، گفت که آنان تلاش دارند تا همـــه ی بنا های درمعرض خطر را مرمت کنند.

## از آتش‌زدن دکان‌های مردم ...

وزارت امـــور داخله افزوده که در نتیجه درگیری افراد یاشده با پولیس، دو تن آنان کشته و سه تن دیگرشان، بازداشت شده‌اند. این در حالی است که وزارت امور داخله از بازداشـــت بیش از ۳۰ متهم در پیوند بـــه رویدادهای مختلف در چند ولایت کشور، خبر داد.

## حریق ۵،۲ میلیارد افغانی ...

مقابـــل حریق پول‌های فرســـوده بانکنوت‌های جدید با در نظرداشت سیاســـت‌های پولی، به دسترس مردم قرار گرفته است. این بانک از شهروندان کشور خواسته اســـت تا در حفظ و نگهـــداری بانکنوت‌های جدید توجه کنند تا از مندرس شدن زودهنگام آن جلوگیری شود.

# افغـــان اعـــلانات

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی زوجیت خط شرعی به اسم سید امین فرزند سید محمد عظیم و محترمه بلقیس بنت ســـید محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۳

***

### اطلاعیه ضرورت خانه کرایی

ریاست معارف شهر کابل جهت تدریس شاگردان در حوزه سوم تعلیمی به حویلی / تعمیرات کرایی در سال ۱۴۰۳ برای مکاتب ( ابتدائیه عبدالله بن مسعود حد اقل ۷ اطاق و ابتدائیه نور الانوار حد اقل ۱۲ اطاق) ضرورت دارد.
اشخاص که در ساحات همجوار مکاتب فوق تعمیرات داشته باشند و طور کرایه به قرار داد بدهند میتوانند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت عمومی تدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند.۷۵

***

### اطلاعیه تقرری

قرار است محترم سید رســـول فرزند پیر محمد دارنده تذکره شماره ( ۵۶۳۷۰ ) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسئویت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شـــاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شـــکایت را نخواهند داشت.۸۲

***

### د داوطلبۍ اعلان

د ا.ا.ا د سترې محکمې تدارکات پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د ۱۴۰۳ هـ ش مالي کال د کابل ولایت مرافعه محکمې کارکوونکو ته د غرمې ډوډۍ لپاره د ۴قلمه خوراکـــي توکو(وریجې، غوړي، لوبیا، دال ) د تدارکاتو په داوطلبۍ کې ګډون وکړي، د شـــرطپاڼې نقل د مالي او اداري عمومي ریاســـت د تدارکاتو له آمریت څخه په فلش یا ډیســـک کې تر لاســـه کړئ،خپل آفرونه په شرطپاڼه کې د ذکر شویو شـــرطونو او د تدارکاتو قانون او طرزالعمل په رڼا کې په سربسته او ترلې ډول ددې خبرتیـــا د خپریدو له نېټې څخه تر ۱۴۰۳/۲/۱هـ ش نیټې تر ۱۰:۳۰بجو پورې د کابل ښار د عامې روغتیا څلور لارې ته څیرمه د سترې محکمې د مالي او حسابي چارو ریاست اړوند د قراردادونو د اسانتیا عمومي مدیریت ته وسپارئ، تر یادې نیټې وروسته او د انټرنټ له لارې را رسیدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.
د آفر تضمین[په بانکي ډول ][ ۵۰۰۰۰ ) افغانۍ دی د آفرونو پرانیسته ۱۴۰۳/۲/۱هـ ش نیټه مخکې له غرمې ۱۰:۳۰ بجو په ستره محکمه کې تر سره کیږي.
نوټ:د آفرونو د پرانستې څخه تر مخ ناسته۱۴۰۳/۱/۲۰ ش نیټه د سترې محکمې په تدارکاتو آمریت کې تر سره کیږي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

به تأسی از فقره (٤) حکم هشتاد و چهارم طرزالعمل و فقره (٢) ماده چهل و سوم قانون تدارکات، ذریعه ایمیل هذا به اطلاع شما رسانیده می شود؛ ریاست تدارکات ملی اداره امور ا.ا.ا به نماینده گی از وزارت محترم دفاع ملی در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک (۹) قلم مواد تطهیریه آشپز خانه و طعام خانه ها ضرورت سال ١٤٠٣ وزارت دفاع ملی( ۹ بخش/لات) تحت شماره تشخیصیه NPD/MoD/1403/NCB/G-011 را به شرکت های ذیل اعطا نماید:

| شماره | لات | نام داوطلب برنده | نمبر جواز فعالیت داوطلب برنده | آدرس داوطلب برنده | قیمت مجموعی حد اقل | قیمت مجموعی حد اکثر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | اول | شرکت جبار متحده لمیتد | ٢٥٣٨-٠٦٠١ | جلال اباد سلطانزی پلازا زون ٤ مرکز ننگرهار، جلال آباد ننگرهار | حد اقل: ۱۵,۳۹۷,۲۹۵/۸۱ افغانی (پانزده ملیون و سه صد و نود و هفت هزار و دو صد و نود و پنج اعشاریه هشت یک افغانی) | حد اکثر: ۲۰,۵۲۹,۶۵۸/۱۶ افغانی(بیست ملیون و پنج صد و بیست و نه هزار و شش صد و پنجاه و هشت اعشاریه یک شش افغانی) |
| | دوم | | | | حد اقل: ۳,۷۲۹,۵۵۲/۹۱ افغانی (سه ملیون و هفت صد و بیست و نه هزار و پنج صد و پنجاه و دو اعشاریه نه یک افغانی) | حد اکثر: ۴,۹۷۲,۷۳۷/۱۸ افغانی(چهار ملیون و نه صد و هفتاد و دو هزار و هفت صد و سی و هفت اعشاریه یک هشت افغانی) |
| | سوم | | | | حد اقل: ۴,۰۲۷,۲۰۱/۸۳ افغانی (چهار ملیون و بیست و هفت هزار و دو صد و یک اعشاریه هشت سه افغانی) | حد اکثر: ۵,۳۶۹,۶۰۲/۴۳ افغانی(پنج ملیون و سه صد و شصت و نه هزار و شش صد و دو اعشاریه چهار سه افغانی) |
| | ششم | | | | حد اقل: ۳,۲۷۲,۲۵۷/۸۲ افغانی(سه ملیون و دو صد و هفتاد و دو هزار و دو صد و پنجاه و هفت اعشاریه هشت دو افغانی) | حد اکثر: ۴,۳۶۳,۰۱۰/۴۵ افغانی(چهار ملیون و سه صد و شصت و سه هزار و ده اعشاریه چهار پنج افغانی) |
| ٢ | چهارم | شرکت النور مومند لمیتد | ۷۵۹۸۳ | سپین غر ټاور شاته نورالله مارکیت ناحیه دوهم شهر جلال اباد، مرکز ننگرهار، جلال آباد ننگرهار | حد اقل: ۳,۷۶۸,۳۰۴/۴۸ افغانی (سه ملیون و هفت صد و شصت و هشت هزار و سه صد و چهار اعشاریه چهار هشت افغانی) | حد اکثر: ۵,۰۲۴,۴۰۶/۰۰ افغانی(پنج ملیون و بیست و چهار هزار و چهار صد و شش افغانی) |
| | پنجم | | | | حد اقل: ۲,۸۶۱,۷۹۷/۴۸ افغانی (دو ملیون و هشت صد و شصت و یک هزار و هفت صد و نود و هفت اعشاریه چهار هشت افغانی) | حد اکثر: ۳,۸۱۵,۷۳۰/۰۰ افغانی(سه ملیون و هشت صد و پانزده هزار و هفت صد و سی افغانی) |
| | هفتم | | | | حد اقل: ۴,۲۸۴,۷۳۵/۰۲ افغانی (چهار ملیون و دو صد و هشتاد و چهار هزار و هفت صد و سی و پنج اعشاریه صفر دو افغانی) | حد اکثر: ۵,۷۱۲,۹۸۰/۰۰ افغانی(پنج ملیون و هفت صد و دوازده هزار و نه صد و هشتاد افغانی) |
| | هشتم | | | | حد اقل: ۳,۵۷۳,۷۴۰/۵۲ افغانی (سه ملیون و پنج صد و هفتاد و سه هزار و هفت صد و چهل اعشاریه پنج دو افغانی) | حد اکثر: ۴,۷۶۴,۹۲۶/۰۰ افغانی(چهار ملیون و هفت صد و شصت و چهار هزار و نه صد و بیست و شش افغانی) |
| | نهم | | | | حد اقل: ۱,۹۱۵,۶۲۴/۵۲ افغانی (یک ملیون و نه صد و پانزده هزار و شش صد و بیست و چهار اعشاریه پنج دو افغانی) | حد اکثر: ۲,۵۵۴,۱۶۶/۰۰ افغانی(دو ملیون و پنج صد و پنجاه و چهار هزار و یک صد و شصت و شش افغانی) |

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست عمومی اداره ا.ا.ا، ریاست تدارکات ملی، معاونیت تخنیکی، آمریت تسهیلات تدارکاتی، منزل اول، پشتونستان وات، کابل - افغانستان؛ وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسهٔ داوطلبی پروژه های ذیل اشتراک و آفر های سربستهٔ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ها ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر ها |
|---|---|---|---|---|
| ١ | پروژهٔ تدارک یک اس تی ام انترنت ضرورت ریاست تکنالوژی معلوماتی | OCS/1403/NCS-48 | 67,000 | ۱۴۰۳/۱/۲۸ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر |
| ٢ | پروژهٔ تدارک محروقات (گاز مایع، چوب بلوط و ذغال بلوط) | OCS/1403/G-52 | 98,000 | ۱۴۰۳/۱/۲۸ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر |

سافت شرطنامهٔ مربوط را از سایت https://tenders.ageops.af/ و یا هم از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
* ساختمان روابط عامه واقع دروازهٔ ورودی ادارهٔ امور.
به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند:
* شمارهٔ دفتر ۰۲۰۲۱٤۲۱۰۲
* شماره وتسپ شخص مسئول: ۰۷٤۸٥۹٥۰٦۰
آدرس بازگشایی آفرها: ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل دوم، سالون جلسات.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 26 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 414

# د کابل ښار میرویس میدان سیمه کې سوداګریزه ودانۍ جوړېږي

د مالیې وزارت او یوه خصوصي ودانیز شرکت ترمنځ د کابل ښار په میرویس میدان (کوټه سنګي) سیمه کې د یوې سترې او معیاري سوداګریزې ودانۍ د جوړولو تړون لاسلیک کړی، چې په دوه جریبه ځمکه کې به جوړه شي.په همدې اړه جوړه شوې غونډه کې د اسلامي امارت یو شمېر لوړ پوړو مسولینو ګډون درلود. په دې سوداګریز مارکېټ کې به



د یاد خصوصي شرکت له لوري د ۴،۵ میلیونه ډالرو پانګونې سره، په ۱۲ پوړونو کې ۳۰۰ سوداګریز دوکانونه ورغول شي، چې ورسره به سلګونو کسانو ته په مستقیم ډول د کار کولو زمینه برابره شي.دغه سوداګریز مرکز به د دریو کلونو په موده کې ورغول شي، چې له درکه به یې په کال کې ۳۸ میلیونه افغانۍ عواید د دولت خزانې ته راتول شي.

## رویدادهای خارجی

### مکرون: له رفح ښاره د فلسطینیانو ایستل جنګي جنایت دی

د فرانسې ولسمشر امانویل ماکرون د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو ته خبرداری ورکړی، چې د غزې تړانګې جنوب کې له رفح ښار څخه په جبري ډول د فلسطینیانو ایستل "جنګي جنایت" دی.د فرانسې د خبري اژانس د راپور پر اساس ښاغلي ماکرون له نتانیاهو سره د تلیفوني خبرو په ترخ کې د اسرائیلو د تېرې جمعې ورځې اعلامیه، چې د نویو ښارګوټو په جوړولو بنا وه، په کلکه غندلې ده.دغه‌راز د فرانسې ولسمشر په رفح ښار کې د اسرائیلو له هر ډول پوځي عملیاتو سره خپل مخالفت جاري ساتلی او نتانیاهو ته یې ویلي، چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته به د یوه پرېکړه لیک مسوده وړاندې کړي، تر څو غزه کې ببړنۍ او تلپاتې اوربند رامنځته شي.



### د واشنګټن دوه مخي؛ اسراییلي بریدونه یې تېروتنه بللې

د جوبایډن مرستیالې کاملا هارېس پر رفح ښار د صهیونستو ځواکونو د بریدونو او پرلپسې رندو بمباریو په ځواب کې ویلي چې دا عملیات تېروتنه ده او باید ژر تر ژر یې مخه ډب شي. هارېس ویلي، که د واشنګټن غوښتنه نه منل کیږي، نو دوی به بدیله لاره غوره کړي.
الجزیرې د آغلې هارېس له قوله لیکلي چې جوبایډن نتنیاهو زغم ته رابللی او د عملیاتو د دروني امر یې ورته کړی دی. واشنګټن ویلي چې که تل ابیب یې پر غوښتنه غور ونه کړي، نو دوی به سخت غبرګون وښیي. تر دې دمخه ماکرون هم پر رفح برید جنګي جنایت بللی و.
که څه هم واشنګټن په ښکاره د صهیونستو د بریدونو غندنه کوي، خو همدا هیواد په پټه او ښکاره د صهیونستو اشغالګرو ستر نړیوال ملاتړی دی او په هر حالت کې ملا ورتړي.

### جان باختن ۸٤ فلسطینی در حمله‌های جدید اسرائیل



وزارت صحت فلسطین اعلام کرده که در ۲٤ ساعت گذشته، ۸٤ فلسطینی دیگر در حمله‌های اسرائیل بر غزه جان باخته‌اند.بر اساس معلومات وزارت صحت فلسطین، با این حساب تعداد غیر نظامیان فلسطینی که از هفتم اکتوبر سال گذشته به اینسو در حمله‌های اسرائیل بر غزه جان باخته‌اند، به ۳۲ هزار و ۲۲٦ تن افزایش یافت.
در همین حال انجمن اسیران فلسطین اعلام کرده است که در این مدت، هفت هزار و ۷۵۵ فلسطینی نیز از سوی نیروهای اسرائیلی دستگیر شده‌اند.در آخرین مورد شانزده فلسطینی دیگر در جریان یورش نیروهای اسرائیلی به خانه‌های فلسطینیان در کرانه باختری، بازداشت گردیدند. این در حالی است که تلاش‌ها برای برقراری آتش‌بس در غزه، بی نتیجه مانده است و اسرائیل در حال تشدید و گسترش حمله‌هایش است.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

# هیاتی از پاکستان به سرپرستی معین وزارت این کشور وارد کابل شد

هیاتی از کشور پاکستان به سرپرستی محمد خرم آغا، معین وزارت تجارت این کشور و شماری از تاجران پاکستان به افغانستان آمده است.
وزارت صنعت و تجارت عصر دیروز از ورود این هیات به میدان‌هوایی کابل، خبر داده است.
هدف از سفر این هیات تقویت روابط تجاری و ترانزیتی میان کابل و اسلام‌آباد گفته شده است.
جزییات بیشتر در مورد سفر این هیات پاکستانی به افغانستان ارایه نشده است.
دو روز پیش سخنگوی وزارت امور خارجه پاکستان از سفر یک هیات این کشور به ریاست محمد خرم آغاز به افغانستان خبر داده بود.
دیده شود که برایند سفر این هیات پاکستانی در راستای بهبود روابط در حوزه‌های تجارت و ترانزیت با افغانستان که همواره آسیب‌پذیر بوده، چه خواهد بود.

# جمعیت هلال احمر افغانی نُه پایه دستگاه جراحی قلب به قوماندانی صحیه ستر درستریز کمک کرد



وزارت دفاع ملی می‌گوید، جمعیت هلال احمر افغانی یک تعداد وسایل و تجهیزات طبی را به قوماندانی صحیه ستردرستیز این وزارت کمک کرده است.
وزارت دفاع ملی با نشر خبرنامه‌های دیروز از کمک وسایل و تجهیزات طبی، خبر داده است.
بربنیاد معلومات وزارت دفاع ملی، این کمک‌ها شامل ۹ پایه دستگاه جراحی قلب و برخی وسایل و تجهیزات طبی می‌شود.
این وسایل و تجهیزات طبی براساس هدایت مقام ریاست‌الوزرا ... ۳مخ

# توزیع کمک‌های بشردوستانه برای شانزده هزار خانواده

وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، برای نزدیک به ۱٦ هزار خانواده در ۹ ولایت کشور، کمک‌های بشردوستانه توزیع شده است.
این وزارت با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزیع کمک‌های بشری به این تعداد از خانواده‌های نیازمند در ولایت‌های مختلف کشور، خبر داده است.
به گفته وزارت احیاء و ... ص۳



# بانک مرکزی ۱۷ میلیون دالر را به فروش می‌رساند

بانک مرکزی افغانستان اعلام کرده که امروز ۱۷ میلیون دالر را طی داوطلبی به طور لیلام به فروش می‌رساند.
دفتر مطبوعاتی بانک مرکزی افغانستان با نشر مطلبی در شبکه اکس از بانک‌ها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرایط تقاضا کرده تا در این داوطلبی اشتراک نمایند. بانک مرکزی افزوده که برندگان لیلام مکلفیت دارند تا حسابات شان را الی ختم روز لیلام، تصفیه نمایند. این بانک گفته که در داوطلبی‌های لیلام اسعار تسویه قسمی معاملات مجاز نیست، برندگان داوطلبی مکلف‌اند تا در مدت معینه، پول معامله خویش را یکبار به طور نقد تحویل بانک مرکزی افغانستان نمایند. قابل ذکر است که پیش از این نیز بانک مرکزی افغانستان به منظور حفظ ثبات ارزش پول افغانی میلیون‌ها دالر را از طریق لیلام به فروش رسانده بود.

**اداره احصاییه:**

# در سال ۱۴۰۲ بیش از سه میلیون تذکره الکترونیکی توزیع شده است

اداره ملی احصاییه و معلومات می‌گوید، در سال گذشته هجری خورشیدی (۱۴۰۲) سه میلیون ۱۲۴ هزار تذکره الکترونیکی برای متقاضیان توزیع کرده است.
این اداره با نشر خبرنامه‌ای آمار تذکره‌های توزیع شده در سال گذشته را نشر کرده است.
بربنیاد معلومات اداره ملی احصاییه و معلومات از این میان دو میلیون ۶۸ هزار دریافت کنند تذکره‌های الکترونیکی مردان و یک میلیون و ۵۶ هزار تن دیگر، زنان هستند.
کابل، هرات، بلخ، ننگرهار و کندهار به ترتیب بیشترین تعداد متقاضی تذکره‌های الکترونیکی راداشته‌اند.
آمارهای اداره ملی احصاییه نشان می‌دهد که از آغاز روند توزیع تذکره‌های الکترونیکی تاکنون برای ۱۲ میلیون و ۹۰۰ هزار تن تذکره‌های الکترونیکی توزیع شده است.
روند توزیع تذکره‌های یادشده همه‌روز ادامه دارد.



# ۳۱ تن به اتهام جرایم جنایی بازداشت شدند

نیروهای امنیتی ۳۱ تن را در پیوند به سرقت، آزار و اذیت، نگهداری اسلحه غیرقانونی و سایر جرایم جنایی، در ۲۴ ساعت گذشته از شماری ولایت های کشور بازداشت نمودند.دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله بانشر این خبر نگاشته است: نیروهای پولیس از این میان پنج تن رادر پیوند به نگهداری اسلحه و مهمات غیرقانونی و سرقت از قندهار، پنج سارق را از کندز، چهار تن را در پیوند به آزار و اذیت از تخار، سه سارق را از ننگرهار، چهار تن را در پیوند به استفاده دخانیات از سمنگان، دو سارق حرفه ای را از غور، سه تن را در پیوند به سرقت از سرپل، یک سارق از فراه و دو تن دیگر را در پیوند به سرقت از مربوطات ولایت غزنی بازداشت‌نمودند.

# د نورستان په وانټ وایګل کې د مخابراتي شبکو فعالیت

د نورستان ځایي مسوولین وایي چې ددې ولایت وانټ‌وایګل ولسوالۍ کې د لومړي ځل لپاره مخابراتي شبکو خپل فعالیتونه پیل کړل. د دغې ولسوالۍ اوسېدونکي غوښتنه کوي چې د نورستان ډېرې هغه سیمې چې لا هم د مخابراتي شبکو له خدمتونو محرومې دي، مخابراتي شبکې فعالې ... ۳مخ

